**بسم‌الله‌الرحمن‌الرحیم**

**د امریکا او چین اقتصادي جګړې، د امریکا د برلاسۍ لپاره هڅې!**



**(ژباړه)**

**خبر:**

په دې وروستیو کې چین امریکا د لویې اقتصادي جګړې په پیلولو تورنه کړه. د ټرامپ د ادارې ۲۵ سلنه تعرفې د ۳۴ بېلیونه په ارزښت له اته سلنې چیني تولیداتو څخه ډېرې دي، چې په هغه کې صنعتي ماشینونه، طبي وسایل او اتوماتیکې برخې پکې شاملې دي. بیجینګ ژمنه کړې چې د دغې قضیې په اړه غبرګون وښیي. نو ایا موږ ربښتیا هم یوه لویه اقتصادي جګړه ننداره کوو او که تر دې هم ناوړه څیز؟

**تبصره:**

د واشنګټن او بیجینګ تر منځ روانې شخړې یوازې د سوداګرۍ له امله نه دي، بلکې د دغو دواړو هېوادونو تر منځ ډېر نور لیدلوري هم شته چې شاید ډېر ژر په یوې لویې اقتصادي جګړې بدل شي. د بیجینګ له خوا د پولي واحد بدلون، د امریکا د اټومي هوکړې د تسلیمېدو پر وړاندې د شمالي کوریا ناخوښي، د تایوان د خپلواکۍ غوښتنه، له ګاونډیانو سره د چین سرحدي شخړې او د چین په سویلي سمندر کې د امریکا له سمندري ځواکونو سره د چین

شخړې د پاملرنې وړ دي. کله چې يو نوی قدرت کافي ځواکونه ولري، تر دې چې په سيمه کې يو ځواک د واکمنۍ له پلوه وګوابښي، د انتقالي قدرت ملاتړي د سختې جګړې احتمال ښيي. په ختيځه اسيا کې د امريکا او چين مبارزه د تل لپاره يو قدرت دی، چې ډېری امرونه رهبري کوي.

له دې ځايه ليدل کېږي چې د چين او امريکا جګړې ډېر ارزښت پيدا کړی او په ورته وخت کې هغه ګواښونه تاييدوي چې په سيمه کې د امريکا د نفوذ دې له منځه وړلو هڅې کوي. پر دې سربېره، امريکا په دې هڅه کې ده چې چين د نړيوالو قوانينو په دستګاه کې شامل کړي او دا په نړۍ کې له زبرځواکۍ څخه د امريکا د لېرې کېدو او پرېښودو نښې دي.

د ټرامپ اداره د امريکا له کمزورۍ او د نړيوالې دستګاه له محدوديتونو څخه خبره ده، چې د سيمه ييزو قدرتونو لکه چين، روسيې او اورپا د اندېښنو سختوالی جبران کړي. له يو قطبي حالت څخه دوه قطبي حالت ته د تحول په حال کې په يوه نړۍ کې د قوانينو بياجوړل د شطرنج د پياده دانې په څېر ده (د شطرنج د لوبې پيل د امتيازاتو لاسته راوړلو لپاره د يو يا دوو پيادوو له لاسه ورکول). د ټرامپ اداره پر دې باور ده چې د امريکا به خورا ښه ملاتړ وکړي. د ټرامپ اداره نړيوالې سوداګرۍ او سوداګريز پلاوي لکه د نړيوالې سوداګرۍ سازمان ته لږ پاملرنه کوي. چين د سوداګرۍ له نړيوال سازمان څخه شکايت کولی شي، خو د امريکا ولسمشر ټرامپ د يو انچ په کچه هم ځان ته ټکان نه ورکوي.

له دغه ټکي څخه پوهېږو چې له پوتين سره د ټرامپ د سولې وړانديز او له سنتي متحدانو څخه اندېښنې په بشپړه توګه د پوهېدو وړ دي. ټرامپ پر دې باور دی چې له روسيې سره نوې هوکړه امريکا ته د پېښېدونکو ګواښونو په مخنيوي کې مرسته کولی شي او د اورپا او چين د نفوذ د مخنيوي پر وړاندې د يو لوی خنډ په توګه عمل کولی شي. دغه بيړنی عمل ټرامپ له چين سره معاملې ته خوځوي او له اروپايي ټولنې له پلټولو او ناټو څخه ګټه اخيستلو ته شا کوي.

دغه ټولې لارښوونې ټرامپ طرحه کړې چې د دغو اوږدمهاله متحدينو د ترون له شر څخه ارام شي او بياځلي هر اړخيزه اړيکې رامنځته کړي. هره ورځ له چين او اروپا سره سوداګريزې جګړې حل لارې، اورپايان له چين سره د پياوړې تګلارې په کتنه کې خسته کړي دي.

په هر حال، دا چې دغه حالت تر کومه دوام کوي، وخت به يې ځواب کړي، خو د دغو ټولو چارو پر وړاندې د اسلامي امت مسووليت همغه واحد رسالت دی چې پر دغو ننګونو بريالي کېدايشي او خپل ځانونه د لاسپوڅو رهبرانو له منګولو وژغوري او يوې رښتنې حل لارې ته لاس رسی پيدا کړي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿إِنَّ اللَّـهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّىٰ يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ﴾**

[رعد: ١١]

**ژباړه:** الله سبحانه وتعالی د هر هغه قوم حالت تر هغه نه بدلوي تر څو خپل حالت پخپله بدل نه کړي.

**ليکوال: عبدالمجيد باتي**

**د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**۱۴۳۹ هـ.ق د ذی القعدې لومړۍ**

**۲۰۱۸ ميلادي د جولای ۱۴مه**

**ژباړه: بيهر «وياړ»**